AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی ۲۰۱۸/۱۱/۰۸

# غزل

نور د غمیزو د زغم توان نه لرو
لاړو شهید شو قهرمان نه لرو

د مرګ ځپو د ژوند هڅونه مات کړل
ځکه موږ لوی افغانستان نه لرو

پردي مو سره ګلان په اور سوځوي
سوي چمن کې نور ګلان نه لرو

د وخت چړو مو تن پرهر پرهر کړ
خو پرهرونو ته درمان نه لرو

لا هم ژوندي سرونه ډېر لرو، خو
د دستار وړ کوم اتلان نه لرو

که سره یو نه شو، راپورته نه شو
بیا پسرلیه هېڅ ایمان نه لرو

مصطفی پسرلی
18/10/2018


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ